بېشکه الله جل جلاله څه شيان فرض کړي، نو هغه مه ضايع کوئ او ځېنې پولې يې ټاکلي له هغې مه اوړئ، او څه شيان يې حرام کړي هغه مه نقض کوئ، او پر تاسو د مهربانۍ له مخې له ځينو شيانو چې پاتې شوی؛ نه دا چې هېر شوي يې دي، نو تاسو د هغوی پلټنه مه کوئ

د ابو ثعلبه الخُشني جُرثوم بن ناشر رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «بېشکه الله جل جلاله څه شيان فرض کړي، نو هغه مه ضايع کوئ او ځېنې پولې يې ټاکلي له هغې مه اوړئ، او څه شيان يې حرام کړي هغه مه نقض کوئ، او پر تاسو د مهربانۍ له مخې له ځينو شيانو چې پاتې شوی؛ نه دا چې هېر شوي يې دي، نو تاسو د هغوی پلټنه مه کوئ».

[النووي وايي: حسن حديث دی] [الدار قطني په خپل السنن او نورو کې روايت کړی دی]

نبي کريم صلى الله عليه وسلم خبر راکوي چې الله جل جلاله ځينې شيان واجب کړي او فرضونه يې ټاکلي، نو تاسو پرې پابندي وکړئ او په پرېښودلو يا بې‌پروايۍ سره پکې ناغېړي مه کوئ، الله تاسو ته ځينې حدونه ټاکلي او ګواښنې يې درته کړي چې له ناسمو او هغو کړنو مو منع کړي چې هغه يې نه خوښوي، نو په هغه څه کې زياتوالی مه کوئ چې شريعت پرې امر کړی وي، او ځينې شيان يې حرام کړي نو مه يې کوئ او مه ورته نږدې کيږئ، او له دې پرته يې نور پرېښې او پر بندګانو د مهربانۍ له مخې ترې چې پاتې شوی، نو هغه په خپل اصل يعنې رواوالي سره پاتې دي، نو په اړه يې نورې پلټنې مه کوئ.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66510